**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مگر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مگر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانگه**

**د متحدالمآل گڼه: ۲۸** **نېټه: ۲۶ / ۳ / ۱۴۴۴ هـ ق**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**وبعد:** په ۱۴۴۴/۳/۹ هـ ق نېټه چې ۱۴۰۱/۷/۱۳ هـ ش سره برابره ده، د سترې محکمې د عالي شورا جلسه د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضاة، محترم الشیخ عبدالحکیم "الحقاني" صاحب، په مشرۍ دایره شوه، چې د یاد مجلس د اجنډاء درېمه موضوع داسې وه: ((په مرکز او ولایتوونو کې، د حقوقو او ښارنوالۍ له خوا هغه دوسیې چې عارض نه لري، محکمو ته استول کېږي، په دې برخه کې څه ډول ترتیب وشي؟)) د عالي شورى محترم مقام د ۱۴۴۴/۳/۹ هـ ق نېټې د (۷) تصویب د درېیمې پرېکړې پر بنسټ د پورتنۍ موضوع په اړه داسې هدایت وکړ:

((د عدلیې محترم وزارت او د لوی ښارنوالۍ محترمې ادارې ته دې لیک واستول شي تر څو د حقوقو او ښارنوالۍ ټولو ریاستونو ته هدایت وکړي چې سر له ننه دې یوازې هغه دوسیې محکمو ته استوي چې عارض ولري، او هغه دوسې دې نه استوي چې عارض نه لري؛ ځکه چې د اداري اصولنامې د (۱۸۸ مې) مادې مطابق محکمې د هغه دوسیو په هکله اجراأت نه شي کولای چې عارض نه لري.))

بناءً، د سترې محکمې د عالي شورا د محترم مقام د پورتني تصویب درېیمه پرېکړه د دې متحدالمآل په ذریعه د اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شوه تر څو په رڼا کې یې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**یادښت:** پورتنی هدایت د ۱۴۴۴/۳/۲۳ هـق نېټې د (۶۰۰) گڼه لیک په ذریعه د عدلیې محترم وزارت ته او د ۱۴۴۴/۳/۲۳ هـ ق نېټې د (۶۰۱) گڼه لیک په ذریعه د لوی ښارنوالۍ محترمې ادارې ته واستول شو تر څو د حقوقو او ښارنوالۍ ټولو ریاستونو سره یې شریک کړي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء ر**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت د ښارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.